عبدالغفور لیوال
۲۰۲۶/۰۷/۲۹

# مشروطيت د انسان‌محوره سياست پيل

د سياست او حقونو په بحث کې د زړې او نوې زماني ترمنځ برید مشروطیت یا قانونواله ده. په دغه زمانه کې د انسان ازادي، حق او هوسايينه د سياستونو او ټولنيزو هڅو په محور کې راځي. «هره ښېګڼه د انسان لپاره!» شعار او انسان‌محوره تفکر د فرهنګي خواله يا ديسکورس پر افق راڅرګنديږي. هغه قوانين د ټولنيز تعامل بنسټ ګرځي، چې د ټولني جمهور پرې هوکړې ته رسيدلی وي او د خپل ټولنيز ژوند د تنظيم لپاره يې سره قراداد کړي، د واک د ويش ځواکونه رامنځته کيږي او ټولنيزه برابري مانا مومي.

**ترک مال و ترک جان و ترک سر**
**در ره مشروطه اول منزل است**

دا بيت د لومړي مشروطه نهضت د مشر مولوي محمد سرور واصف الکوزي له قلم څخه هغه مهال پر کاغذ راغی، چې له خپلوانو او ملګرو سره يې د توپ خولې ته تاړه . او څو شپې روسته يې د مشروطيت په ارمان ژوند و هرڅه پرېښودل پردغه ورځ مولوي واصف له خپل ورور سعدالله او تره عبدالقيوم سره په توپ والوځول شول، ګڼ نور مشروطه غوښتونکي هم يا ووژل شول او يا داسي شکنجه و زندانيان شول، چې تر مرګ يې کړاو کم نه و. د افغان انسان لپاره د حق غوښتني او د استبداد په وړاندې د پاڅون مبارزه له داسي قربانيو راپيل شوه.

مشروطه نهضت د شلمي پېړۍ د پيل په کلونو کې د سراج‌الاخبار له انجمن او د حبيبيې ليسي د روښانفکر ښوونکيو له ناستو څخه راپيل شو. ميرقاسم خان، د اروابناد مولوي عبدالروف خان کندهاري دوه زامن، مولوي عبدالواسع او مولوي عبدالرب، غلام محی الدين افغان، پروفيسور غلام محمد خان مصور ميمنه‌ګی، عبدالجلال خان، کاکا سيداحمدخان لودين، بابا عبدالعزيزخان، استاد انور بسمل او نور يې لومړني غړي وو.

هر غړي به دغه نهضت سره تر ملګرتيا وړاندې پر قرآن عظيم الشان او توري لوړه کوله، چې ديني ارزښتونو ته له درناوي سره به د افغانانو د انساني حقونو د احقاق لپاره مبارزه کوي، د قدرت انحصار به د يوه شخص يا کورنی له لاس څخه باسي او د ولس د استازيو په وسيله به يې قانونمند کوي. د افغانستان د ټولو هستوګنو، قومونو او قبيلو ترمنځ به ملي يووالی ټينګوي، د معارف او عصري پوهنو په پراختيا، تعميم او ټولو ته رسولو کې به هڅه کوي. د خلکو د ويښتيا لپاره به رسنی رامنځته کوي، ملي شورا به جوړوي او د ټولنيز عدالت و برابرۍ ترڅنګ به د افغانستان د بشپړې خپلواکی اخيستو لپاره هڅې کوي. دوی د افغانستان د خلکو لپاره د خپلې زماني نورې اسانتياوې لکه پاکي اوبه، برېښنا، ښاري اسانتياوې، کار او اقتصادي فعاليت هم غوښتل.

لومړی مشروطه نهضت وځپل شو، خو مشروطه غوښتنه لاژوندۍ وه، د دويم مشروطيت نهضت چې مشري يې ځوان شهزاده امان الله کوله، هغه مهال چې دغه روښانه ځوان پاچا شو، د محمود طرزي، ملکې ثريا، عبدالهادي داوي او ګنو نورو روښانفکرو مبارزانو په مټ په ځرګنده خپله مبارزه او هڅه پيل کړه او د يادو غوښتنو لويه برخه يې ترلاسه کړه. افغانستان خپلواک شو، ملي شورا جوړه او اساسي قانون رامنځته شو. انسان‌محوره سياست او ولسواکی له ټولو ستونزو، خنډونو او غورځو پرځو سره سره خپل مزل له همدې ځايه پيل کړ. مشروطه نهضت د افغانستان د معاصر تاريخ په اوږدو کې د خلکو په ګټه د سياست کولو ظرفيت رامنځته کړ او هېواد يې موډېرني زماني ته ورننه‌يوست.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ